


پروفیسر سیال کاکړ

راسئ د تېرو ځلوېښتو کلونو

له ناورینو پېښو څخه عبرت واخلو

**لیکوال: پروفیسر سیال کاکړ**

د دې پرتمیني غونډې ګرانه مشره، نازولو پوهانو او درنو حاضرینو! زماد میني څخه ډک تاوده سلامونه او ژور احترامونه ومنئ.

د یو اردو ژبي شاعر په یوه خورا پُر مغزه بیت کي د ګران افغانستان د تېرو ځلوېښتو کلونو د ناورینو پېښو عکاسي داسي لیدلای سو.

**وہ وقت بھی دیکھے ہیں تاریخ کی گھڑی وں نے**

**لمحوں نے خطا کی تھی صدیوں نے سزا پائی**

ښکاره خبره ده، چي د شاهي واکمنۍ په وروستيو کلونو کي په ګران افغانستان کي سياسي ګډوډي پيل سوه، د پخواني جماهير اتحاد شوروي په ښکېله سياسي لاس وهنه د تاريخي افغانستان شاهي واکمني په داؤد خاني جمهوريت بدله سوه. ودې نوي جمهوري نظام ته د افغانستان پوهانو او منورينو تود هرکلی ووايه، او د اديبانو په شاعرانه احساساتو بدرګه سو. شاهي نظام بالآخره ړنګ سو. په دې ډول د ګران افغانستان سياسي چاپېريال په جمهوري نغمو معطره وګرځېد، خو وخت ډېر ژر دا خبره ثابته کړه، چي د دغه جمهوري نظام بنياد په حقيقت کي د اغيارو پرسياسي مفکورې ولاړ ؤ، نو ځکه خو په ډېره لنډه موده کي د جمهوريت مؤسس محمد داؤد خان جمهوري ميدان بايلوئ، او په نره د خپلي درنې کورنۍ د غړو په ملتيا په شهادت ورسېد. د سازشونو په نتيجه کي داؤد خاني جمهوريت په کمونيستي سيستم بدل سو. په حقيقت کي داؤد خاني جمهوريت په افغانستان کي د کمونيستي سيستم د پيل کېدو اولين پړاو ؤ. البته د خلکو سر په سياسي د سيسو او تاريخي سازشو بيا ډېر وروسته خلاص سو، خو هغه وخت اوبه تر ورخ تېري سوي وې. رېښتيا:

تر ورخ تېري اوبه بيرته نه جاروزي
نه جاروزي تېر ساعت په بيرته بيا

د ثور اوښتون که کودتا؟

هر سړی چي ودې نوي سياسي بدلون ته په هر نظر چي ګوري داد هر چا خپله خوښه او خپل خپل ګزدئ، خو د دې نوي سياسي بدلون په راتګ سره په ګران افغانستان کي داسي ګډوډي پيل سوه، چي تر اوسه پوري په يوه شکل او يا په يوه بله بڼه دوام لري. يوه شاعر څومره ښه ويلي دي:

خشت اول چون نهد معمار کج
تا ثريا مېرود دېوار کج

موږ بايد د ګران افغانستان د دغه څلوېښت کلن خوني ادوارو ټولي ناورينې پېښې په سړه سينه سره وڅېړو. لاملونه ئې وسپړو،

کورني دښمنان او بهرني غلیمان وپېژنو، په ملي احساس خپلې ملي ستونزې هواري کړو، او د تېرو څلوېښتو کلونو له ناوړینو حالاتو څخه درس واخلو، زده کړه ځنې وکړو، په رښتیا عبرت ځنې واخلو او په عمل دا ثابته کړو، چې نور به په افغانستان کې وجنګونو ته د پای ټکی ږدو، او هر ډول تشدد به په کلکه غندو. په دې ډول به فخر افغان حضرت پاچاخان په قبر کې له موږ څخه راضي سي. او دا کلکه اراده وکړو، چې د ګران افغانستان د بقاء او په افغاني ټولنه کې د انسانانو د ښېګڼې په خاطر به په وطن کې صلح او امنیت راولو. په همدې کې د ګران افغانستان او حلقه یي سیمې خیر دئ. او موږ به په اینده کې دا زیار باسو، چې په راتلونکې وخت کې د تېرو وختونو ناخوالې او تېروتنې په ګران افغانستان کې تکرار نه کړو. هغه د چا خبره:

چراکاري کند عاقل که باز آید
پشــــــــیـــــــمـــــــانـــــــي

ریښتیا خبره خو داده، چې په دې تېرو څلوېښتو کلونو کې د ګران افغانستان پر سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي وجود باندې هغه نه جبران کېدونکې بریدونه وسول، چې د راتلونکې وخت مؤرخین به ئې دمعنوي زیانونو او تاریخي تاوانونو په اورېدلو خواشیني او په لیکلو شرمسار وي. که چیرې موږ د تیرو څلویښتو کلونو وتاریخي پېښو او ناروا غوبلونو ته په ژور نظر وګورو، نو تاوانونه ئې بېخي زیات او ګټې ئې پر نه څه حساب دي. حقه خبره خوداده، چې په دې تېرو څلوېښتو کلونو کې په افغانانو خپلو او پردیو هغه کانې وکړې، چې بشري تاریخ ئې له لیکلو څخه عاجز دئ.

د افغانستان د دې تېرو څلوېښتو کلونو تاریخي پېښو او ناوړینو حالاتو انساني زړونه ولړزول. بهرنیو دسیسو او داخلي لاسونو افغانان ودېوال ته وچ کلک ودرول، چې له خپل ټاټوبي ګران افغانستان څخه وبهرنیو هېوادونو ته کډه سي. او داچې پردې کډوالو د مهاجرت په ژوند کې ګومره خوارۍ او دربه درۍ ورغلې دي، او یا دا وخت پر افغاني کډوالو په پردیو ولایتونو کې څه

تېرېږي، د پردیسو په زړونو یو خدای(ج) ښه خبر دئ. اولنیو پښتنو داسي ویلي دي: مځکه هغه سوځي چي اور پر بلیږي. موږ پخپلو کوروکي ناست د پردیسو افغانانو د ستونزو اندازه بېخي نه سولګولای. خدای(ج) دي ټول افغاني کډوال خپل ګران افغانستان ته روغ رمي د امنیت په فضا کي راستون کړي. شاعر داسي خوب لیدلئ دئ:

وختونه ډېر تېر سوي پردیسان اوس په ژړا
دي
خدای بې راولي ولات ته وخت کړې فیصله
ده

ما دا ویل: څوک چي د اړو دوړ په شپو کي په داخل د افغانستان کي پاته سول، د هغو حال پرخپل ځای یوزړه لړزونکی او نه هېرېدونکی داستان دئ. په تېرو څلوېښو کلونو کي ښځمني وې که نرګانې، سپین ږیري ول، که ځوانان، تنکي ماشومان ول، که پېغلاني خپلو او پردیو خورا زیات ځورول. د دوی سوي چیغي او فریادونه مو هیڅکله نه هېرېږي. فضا تر اوسه پوري د مظلومو انسانانو په ساندو ډکه ده. خو زه وایم:

د عزت خاوندان ټول له سول بې آبه
دانو څنګه انقلاب ؤزماورونو؟

هو! د تېرو څلوېښتو کلنو ناورینو پېښنو ګران افغانستان په کنډوالو بدل کړ. ګلالي افغانان ئې تر خاورو لاندي کړل. بې شمېره ښځمني کونډې او بې حسابه مندي بوري سولې. تنکي ماشومان یتیمان سول او چټ ځوانان په مرمیو سوري ـ سومبري سول. معیوبیین تر حساب تېر سول. پل چرخي او همزنګ د شهیدانو په سرو وینو ولمبېدل. بامیان، دښت ارچي او د دښت لیلی'بیا یو بل خوني داستان دئ. په همدې تېرو څلوېښتو کلونو کي کابل ړنګ سو، کندهار وران سو، د ګران افغانستان هر کلی او هر ښار د ظلم په مېچن کي واښول سو.

مو ږ په تېرو څلوېښتو کلونو کې پخپلو سترګو ولیدل، چې د ګران افغانستان ټوله معنوي شتمني لوټ سوه. دارلامان کنډواله سو، باغ بابر ویران سو. ملي موزیمونه چورسول، د هېواد کتابتونونه یا خولوټ سوه او یا د اورونو په سرو لمبو کې لوپټ سول. د بامیان تاریخي بودایي مجسمې په توغندیو سره رېزمرېز سوې، د پښتو ټولني ګلالی کتابتون یا خو چورسو او یا دکتاب او قلم دښمنانو اورونه په بلول او دژمي په سړو شپېو کې ئې خپل ځانونه په ګرمول. همدارازد جلال آباد د اډې تاریخي موزیم یو مخ چور سو، او ښایسته ودانۍ ئې په سپېره ډګار بدله سوه. همداډول د کابل په سالنګ واټ کې د افغانستان وملي آرشیف ته ډېر زیان ورسېد. د همدې کابل جان ښکلی او تاریخي ژوبڼ د مدني ټولني دښمنانو برباد کړ. په همدې تېرو څلوېښتو کلونو کې ومکتبونو او پوهنتونو ته تراندازې زیات تاوانونه ورسېدل. بې سوادي عامه سوه او جهالت پر سواد غالب سو. په تېرو څلوېښتو کلونو کې د افغانستان د معنوي شتمنیو په څنګ کې د وخت واکمنانو د پښتو او دري نومیالي شاعران او ادیبان د بېلابیلو زندانونو په تورو کوټوکې په شهادت ورسول. روحونه دې ښاد وي. د همدې ناورینو پېښو له کبله د پښتو او دري ډېر ژوندي ادیبان او شاعران د افغانستان په داخل او خارج کې په نري رنځ اخته او بالآخره د خدای په کارسول. هر یو مې وسترګو ته جګ ولاړ دئ. پروردګار دې پر ټولو باندې ورحمېږي. هغه د رحمن بابا وینا را په یاد سوه، چې وایي:

خدایه څه سوه هغه ښکلي ښکلي خلک
په ظاهر او په باطن سپېڅلي خلک
هیڅ خندا مې له دې خلکو سره نه سي
زما یادېږي هغه تللي تللي خلک

د مادي شتمنیو په باره کې د یادولو وړ ده، چې د پکتیا سمسور ځنګلونه په تېرو څلوېښتو کلونو کې په خورا ناترسۍ له بېخه وایستل سوه او د همدې څلوېښت کلونو ناورینو پېښو په نتیجه کې د ګران افغانستان معدني دولت خپلو او پردیو په دواړو لاسونو لوټ

کړ. په لنډ ډول ویلای سم، چې د تېرو څلوېښتو کلونو ناورینو پېښو وافغانانو ته دومره زیات معنوي زیانونه او مادي تاوانونه رسولي دي، چې جبران ئې خوراګران کار دئ. په تېره بیا د معنوي شتمنیو، چې البته په دې معنوي شتمنیو کي دولتي موزیمونه، دولتي کتابتونونه او شخصي کتابخانې شاملي دي.

دا خبره باید په ډاډه زړه وکم، چې په داؤد خاني څلور کلنه دوره کي وګراني پښتو ته خورا زیات کار وسو، داهغه زمانه وه، چي نومیالي لیکوال او پیاوړي څېړونکي اروانښاد محمد صدیق خان روهي په کابل کي د پښتو ټولني مشر ؤ. زموږ دې منلي ادیب او ښاغلي مشر پر پښتنو پوهانو د پښتو ټولني ور خلاص پرې ایښئ ؤ. نو ځکه خو د اروانښاد روهي د اخلاص او پښتنو لیکوالانو ته د فري هینډ (Free hand) ورکولو په نتیجه کي د پښتو ادیبانو په همت د پښتو په سوونو کتابونه چاپ سول او په عین حال کي د خلکو تر لاسو پوري ورسېدل. زما په فکر د پښتو ټولني په تاریخ کي زیات کتابونه او سمینارونه د اروانښاد روهي په دوره کي چاپ او جوړ سوي دي، نو ځکه خو زه په تېرو څلوېښتو کلنو کي د اروانښاد روهي د ریاست ودې زریني دورې ته د پښتو د پیاوړتیا او پرمختیا دوره وایم. البته په کمونیستي دوره کي، چي دافغانستان د علومو اکاډیمي تأسیس سوه، نو وپښتو او دري ته د یوې ځانګړي مفکورې تر تاثیر لاندي ښه ډېر کار وسو، خو د پښتو او دري پر ټولو اثارو باندي د بېګانه مفکورې غوړګښتي پرته وه. په مجوع کي په تېرو څلوېښتو کلونو کي د پښتو د چاپي اثارو شمېر و زراوو ټوکونو ته ورسېد، چي دغه واړه چاپي اثار پر موږ د ګراني پښتو د روښانه سباؤن زېری کوي.

دا یو پر ځای او روښانه حقیقت دئ، چي په تېرو څلوېښتو کلونو کي د افغانستان ګاونډیو هېوادونو په شعوري ډول دا کوښښ کړئ او کوي ئې، چي افغانستان تر خپلو فرهنګي اغېزو لاندي راولي. زما په خیال د افغانستان د څنګلوزو دغه ناروا هڅي د غندلو وړ دي. اوس باوجدانه افغانان واغیارو ته بیداره سوي دي، او دوی هیڅکله په ګران افغانستان کي د پردیو فرهنګي حاکمیت او کلتوري واکمني نه مني.

اغیارو خو په تېرو څلوېښتو کلونو کي دا زیار هم وایستئ، چي افغانستان د خپلو ناوړه موخو له پاره تحلیل کړي، خو وقدرت ته منظوره نه وه. او د آسیا کلک زړه پر خپل ځای قایم پاته سو. که خدای کول ګران افغانستان به تر قیامته پوري قایم او دایم پاته وي. د فلیسوف شاعر علامه اقبال لاهوري طلایي وینا ده، چي وایي:

آسـیا یـک پـیـکـر آب و ګـل اسـت
مـلـت افـغـان در آن پـیـکـر دل اسـت
ازفسـاد او فسـاد آسـیـا
ازکشـاد او کشـاد آسـیـا

خبري ډېري سر ئې یو، دایو حقیقت دئ، چي افغانانو په تېرو څلوېښتو کلونو کي ډېري ستونزي وګاللې، مادي او معنوي تلفات ورورسېدل، په همدې څلوېښتو کلونو کي په لکاوو افغانان مړه سول او په زراوو انسانان معیوبین وګرځېدل. او دا چي په لکاوو افغانان د ظالمانو د ظلمونو په نتیجه کي د خپل پلرني وطن څخه بېلابیلو هېوادو ته تللي دي، او هلته تر اوسه پوري د مهاجرت په صفت ژوند کوي. وافغانانو ته دغه ورپېښي د مهاجرت ربړي پر خپل ځای د بحث وړ دي. د پردیسو افغانانو مسایل د لویو قوتونو جدي پاملرنه غواړي، چي ټول پردېس افغانان خپل ګران او خواږه وطن ته راستانه سي. د دوی راستنېدل به هغه وخت امکان ولري، چي په ګران افغانستان کي امنیت راسي، او د خلکو سر و مال او آبرو په امان سي.

زه دا خپلي ماتي ګوډې خبري راغونډوم، موږ باید د تېرو څلوېښتو کلونو له ترخو تجربو څخه عبرت واخلو او نور و خپل منځي شخړو او بې ځایه جنګونو ته د پای ټکی کېښېږدو. ورور وژنه د خدای په خاطر پرېږدو او د افغانانو په مابینځ کي نژادي، ژبني او سیمه ایز توپیرونه تر پښو لاندي کړو. او د ګران افغانستان ټول وګړي په مینه او اخلاص یو وبل ته د ورورګلوئ لاسونه سره ورکړو. دوست او دښمن وپېژنو، ټول افغانان د ملي وحدت وسنګر ته راوبولو. تېري دښمنۍ هېري کړو او ګذشته را صلواة آینده را

احتیاط پر مصداق ټول افغانان یو و بل په ورین تندي پرمخانو سره مچ کړي.

یو و بل سره وبخښي او ټول افغانان د یو موټي، خپلواک او سمسور افغانستان په فکر سي. د اروابناد سلطان محمد صابر وینا ده، چي وایي:

د میوند خاوري خړوبي کړه په وینو
ځکه بوی د کندهاره د لونګ ځي

او یا دنو موړي شاعر دا خوندور شعر:

حق حقدار ته په غوښتلو نه رسیږي
څو ئې وانه خلي په موټو د پولاد

په پای کي زه د کندهار پوهنتون د پاچاخان د علمي څېړنیز مرکز د ټولو مسؤلو کسانو، په تېره بیا د ګران شېرشاه رشاد څخه د زړه له کومي مننه کوم، چي وماته ئې د تاریخي کندهار په دې پرتمینه څېړنغونډه کي د ګډون بلنه راکړه. هیله ده، چي زما دغه ماته ګوډه لیکنه د غوبي په ځای کي ونیسي.

زما په ژوند کي چي سمسور افغانستان
ســـــــــــــــي
بل ارمان زه په دنیا کي نه لرمه
خپله خاوره به د زړه په وینو ساتم
دغه بول د ګران «رفیع» سره کومه

ژوندی دي وي ګران افغانستان او تل دي وي د افغانانو ملي پیوستون.